# استعمار او د پښتونستان واقعیت

**لیکوال: حفیظ الله امین**




**د لوی ځښتن په سپیڅلي نامه،**

**دا مقاله د افغانستان د پخواني ولسمشر او د خلق گوند د یو مشر حفیظ الله امین لیدلوری څرگندوي چې د پاکستان او پښتونستان په اړه یې په خپل وخت کې لرلی او پخپل قلم لیکلی دی چې موږ یې د پښتونستان په هکله د مالوماتو د لا زیاتولو لپاره سافټ بڼه دلته نشروو.**

**احمد سمون شریفي**

«استعمار او د پښتونستان واقعیت»

لیکوال: حفیظ الله امین

*

انسان یو متکامل اجتماعي حیوان دی او د انسان تکامل د اجتماعي او اقتصادي ژوند پر اساس یو تاریخي واقعیت دی، چې دغه اجتماعي او اقتصادي ژوند هم په تاریخي جریان کې د محیطي اشیاوو دننه دننه د متضادو عناصرو د تعامل محصول دی او د انسان د اجتماعي ژوند تحولاتو د اقتصادي عواملو تر اغېزې لاندې تاریخي واقعیت اختیار کړی دی.

انسان اصلاً پاک او ازاد خلق کېږي. محیطي او اقتصادي عوامل دي چې د انسان پاکوالی او ازادئ ته صدمه رسوي او د انسان په ژوند کې د تحولاتو د ایجاد باعث گرځي او د تکامل دورې یې یوه په بلې پسې راوستلې دي.

ابتدایي انسان د طبیعي عواملو او فردي استثمار په مقابل کې په انفرادي ژوند سره مقاومت ونه شو کړای' نو هرو مرو یې د داسي ټولنی تشکیل ته مخ کړ، چي ددوی د ژوند مصئونیت پکې تامین شي' نو وړې کلیوالې ټولنې یې تشکیل کړې، کله چي په دغو وړو او کلیوالې ټولنو کي هم ددوی ژوند اقتصادي ثبات ونه موند او ددغو ټولنو ترمنځ تجاوزاتو هم ډېر قوت وموند' نو مخ په لویو ټولنو شول او فیوډلي سیستمونه یې منځ ته راوستل؛ چې په خپل وخت کي ډېر مترقي او ډېر مناسب تصور کېدل. البته کله چې فیوډالیزم په قدرت کې و او د ارتقا سیر یې لا په ډېر سرعت مخ په خپل معراج و، هیڅ ضعیف او معروض په زوال نه تصور کېدو. ځکه په تاریخ کې په خپل وخت او خپل ځای کې واقع و.

فیوډالیزم Feudalism هم د سرمایو د تجمع، مهاجرتونو، اکتشافاتو او اختراعاتو په ظهور سره مخ پر زوال شو، لکه چې فیوډالیزم د عروج او نهایي قدرت په وخت کي ابتدایي ژوند، غیر مترقي او نیمگړی تصور کېده او هر څه د فیوډالیزم خواته متمایل وه. اوس په فیوډالیزم باندې اعتراضات شروع شول او د زاړه سیستم خطاب ورته کېده. د فیوډالي سیستم محلي استحصال او محلي استهلاک مات شو. لویي لویي صنعتي تولیدي پروژې او لویي فابریکې اختراع شوې او په کار ولوېدلې. صنعتي محصولاتو د محلي استهلاکاتو څخه زیاتوالی پیدا کړ. محلي اومو موادو د فابریکو د جریان له پاره کفایت نه کاوه. همدلته د تور استعماري دېو نطفه پیدا شوه. د بشر د وینې تویولو، چورولو، عمومي قتلونو، کلي او کور، او بالاخره د ولسونو د سوځولو هوس چي په شخصي او فردي گټو او د نورو په استثمار بنا دی موجودیت پیدا کړ' نو د لویو قدرتونو خاوندانو وغوښتل چي د خپلو فابریکو د مطلوب جریان له پاره ارزانه اومه مواد او د

خپلو پخو اومو موادو له پاره گران بازارونه پیدا کړي او نورو ولسو د ډېرو ټیټو اجورو د کارگرانو په واسطه یې په کار واچوي. نو د نورو په ملک او ملیت یې تېری او تجاوز وکړ، او استعماري تاریخ له همدې ځایه شروع شو.

استعمار یونو د خپلې ارزو د تامین له پاره له هیڅ ډول خلاف انسانیت کارونه مخ وانه ړاوه. څرنگه چې د دوی دغه آرزو د نورو هېوادو پر حقوقو باندې تېری و' نو د هغو هېوادو د ولسونو له مقاومتونو سره مخامخ شول. په مقابل کې استعماریونو په لویو لویو سیاسي او عسکري قدرتونو د نورو ولسونو په سیاسي او اجتماعي حقوقو تیری شروع کړ، تر دې پورې چې مطلق نژادي تفوقونه، غلامۍ او له ټولو انساني حقوقو څخه محروموول یې په ډېر افتخار سره رایج کړل.

انگلیس چې د استعمار په تاریخ کې یو خاص موقف لري، او د ډېرو ملتونو له انساني حقوقو نه یې ډېرې ناجایزې استفادې کړې دي. ډېر خلک یې ووژل او په ډېرو فجایعو باندې یې خپل تاریخ ننگین کړی دی، چې په دې سلسله کې یې پر هند باندې هم تسلط پیدا کړ.

د هند قاره د دوی د صنعتي فابریکو د محصولاتو له پاره ډېر لوی بازار و، د هند قارې چې د دوی له پاره د طلایي څمکې حیثیت درلود د انگلیسانو د عیش او نشاط بازارونه ورباندې تاوده او د باداری او مطلق العنانې نیلی یې ډېر مست او په شهنار و. کله چې دوی د بنارس د پېغلو د تکو اوبدلو په واسطه د خپلو منسوجاتو بازار په هند کې له خطر او زوال سره مخامخ حس کړ نو د هند د ډېرو پېغلو گوتې یې پرې کړې، چې هیڅ چاته د لږ ابتکار جرئت هم پاتې نه شي. دا یوازې د انگلیس د ظالمانه اعمالو مثال نه دی' بلکې د ټول استعماري سیستم له هویت پخه نمایندگي کوي.

استعمار یون یوازې یو هدف لري چې هغه د نورو د زیار، ژوند او کار په واسطه د شخصي منافعو تامینول دي. په همدې ډول د انگلیس ملت د ستر استعماري ولس په حیث د مستعمراتو د ولسونو په وینو د خپلو شرابو پیالې ډکولې.

د هندیانو پر غلامۍ او محکومولو د انگلستان د سرمایه دارانو د اقتدار تاج ډېر لوړ ولاړ و، د هندي مزدورکارو په ډېرې لږې اجورې ددوی د هوا او هوس هر ډول وسایل تهیه کېدل. په دې وخت کې چې انگلیسانو د هندیانو په ځان او مال لوبې کولې.

د پښتنو په لوړو غرو کې د ازادۍ نغمې ږغېدې او د پښتونخوا په فضا کې ازادو بازانو الوتنې کولې، انگلیسان دې حساس وضعیت ته متوجه شول او وپوهېدل چې دغه د ازادۍ مشعلونه چې د هند په شمال کې په روښانه ډول بلېږې هرو مرو په هند کې هم د ازادۍ وړانگې خپروي. له استعمار څخه ډک لاس یې د پښتو خاورې ته هم را اوږد کړ. سر هله دې چې له امو څخه تر اباسیند پورې ټول ولس پوره یوه پېړۍ له استعمار یونو سره لاس و گرېوان و او د ازادۍ

مجادلو يې دوام درلود' نو په ډېر جبر، ډېر خلاف طبيعت او د اقتصادي ګټو د ساتلو د قدرت په واسطه يې د پښتنو له خاوري يوه ټوټه پخپل زړه بېله او په برتانوي هند پوري وتړله، او د طبيعي افغانستان طبيعي وجود يې د استعمار په خنجر دوې ټوټې کړ او ټول پښتانه يې په دغه مجادله کي اخته وساتل.

کله چي استعمار له خپل ټول اقتصادي سيستم سره په تاريخي جريان کي له زوال تازه او له تاريخ سره سمو مجاهدو کي پښتنو ډېره لويه برخه واخيسته، ډېر پښتانه په دې لار کي شهيدان شول. ډېر پښتانه مشران او ځوانان د جيلخانو تورو ښامارانو وخوړل. خو کله چي انګليسي استعمار د هند د خاوري پرېښودو ته مجبور شو؛ بيا يې هم د پښتون قام پر ټول ولس باندي ډېره کلکه ضربه وارده کړه چي د هند خاوره يې په هندوستان او پاکستان ووېشله، او د انګليس حکومت پخپله د پاکستان تر څنګه ودرېده او د پښتنو هغه خاوره چي جبراً يې له خپل اصلي او طبيعي وطن څخه بېله شوې وه قهراً او په ډېر زور سره په پاکستان پوري وتړله.

انګلستان په دې ارزو کي دي چي سره له دې چي ټول جهان مادتاً او معناً تغير موندلی دی؛ بيا هم خپل استعماري منافع تامين کړي او د پاکستان سره د نظامي ډلو او تړونو په ذريعه د نړۍ په دې ګوټ کي خپل سياسي موقف حفظ کړي. خو اوس هغه ماحول او هغه شرايط وجود نه لري، تاريخ استعمار په ځپېړه وهلی دی، هغه تاريخي دوره تېره سوه اوس تاريخ په شآ نه ګرځي، او د هغې زړې وني ښاخونه په هيڅ صورت نه شي ټينګېدای.

دا هم واضحه ده چي استعمار پخپله تاريخي دوره کي د کوم مخصوصي سړي او يا مخصوص کام ابتکار نه و، او نه د استعمار دغه زوال په کوم مخصوص سړي پوري ارتباط لري. هغه يوه تاريخي دوره وه او دا بله، هغې دورې استعمار وروزه. استثمار د هغې دورې يوه مهمه خاصه وه.

دغه نوې تاريخي دوره استعمار وژني له خپل زحمت څخه پخپله ګټه اخيستل ددغي دورې مهمه خاصه ده. په دې دوره کي هر څه پخپل طبيعي جريان کي ځای نيسي. غير طبيعي او له محيطي او مادي عواملو سره مغاير عمل دوام نه لري. پښتونستان چي په غير طبيعي توګه له خپل اصلي وجود څخه بېل سوی دی او د پاکستان يوه برخه ګڼل شوې ده له طبيعت څخه مخالف کار او په غير طبيعي صورت د پښتنو د سالم وجود په جبر سره د دوه ځايه کولو کار دی.

نو هر پوه او مفکر سړی چي له علمي تدبير څخه کار اخلي پوهېږي چي انسان آزاد پيدا کېږي، او آزاد بايد واوسېږي، او په ازادۍ کي بايد مړ شي' نو که څوک له دغي طبيعي لاري څخه منحرف کړای شي؛ د طبيعت له قانون څخه مخالف کار او په انسانيت باندي يو قبيح تجاوز دی او څوک چي له انسانيت څخه مخالف د نورو په اسارت کي خپلي ګټې لټوي او د تاريخ جبر په نظر کي نه نيسي او د نورو له منافعو څخه د ځان له پاره سود او فايدې برابروي؛ په تاريخ کي به د ظالمانو او غاصبانو نسبت ورته کېږي او هغه څوک چي د دغو ظالمانو په مقابل کي مجادله کوي واقعي انسانان دي، او د تاريخ له اقتضاآتو سره سم حرکت کوي' نو د پښتونستان مجادله د پښتنو د دوه ټوټې وجود د درد احساس، د

هندوکش او د سلیمان د غره د لمنو، د آمو او اباسین د غاړو طبیعي یووالي حس کول او د هغو له پاره مجاهده کول له انسانیت سره پوره سمون لري او پوره انسانیت دغه مجادله ایجابوي.

که څوک د تاریخي تضادونو تر رڼا لاندي د پښتونستان مسئله مطالعه کړي هم ویني چي د نورو په وینو لمبېدل او د نورو له ژوند څخه استفاده کول د ملي احساس او خپلو حقوقو د ګټلو او د خپل زیار څخه پخپله استفاده کولو په واسطه زوال مومي او بالضرور د استثمار نابودي او واقعي آزادي منځ ته راځي. د نړۍ اوسني شرایط ټول یو نوي لوري ته میلان لري چي هغه د استعمار ورک کېدل او له طبیعي او مادي کیفیت سره سم د ولسي واقعیت قوت موندل دي نو هر هغه څوک چي غواړي دغه حرکت محوه کړه د ناپوهۍ څخه سره په دېوال وهل او د سړې وسپني ټکول دي که په رښتیا معقولانه حرکت او رښتنیني واقعیت لټول هدف وي' نو د پښتونستان د دغه مصنوعي او غیر معقول حال د اختتام له پاره باید مجادله وشي. غیر له دې هر عمل د استعمار یونو د ړندو سترګو له عمل سره شباهت لري.

هو! که د نړۍ عمومي جریان په نظر کي ونیول شي؛ که په نړۍ کي د سیستمو د ارتقا او زوال مراحل او عوامل مطالعه شي، که د نړۍ ټول وقایع تحلیل شي، د هر جریان هري مرحلې، او هري واقعي په اساس پوره ښکاري چي هر څه که چي له نوي او متضاد عنصر سره مخامخ شوي دي وروسته له دې چي خپل مراحل یې طې کړي' نو ځای یې بل نوي عنصر ته پرې ایښی دی. اوس چي په نړۍ کي استعمار د خپل عمر د زړښت په مراحلو کي دی او خپله کمبله ورځ په ورځ ټولوي او د خپل کامل مرګ له پاره ترتیبات نیسي؛ پښتونستان هم د همدغي نړۍ جز دی. د ټولي نړۍ په خیر او شر کي برخه لري. هر عمومي وضعیت چي پر ټوله نړۍ راځي دلته هم هرو مرو وقوع پیدا کوي. موږ ټول د نړۍ په تاریخ کي اشتراک لرو. د نړۍ له تحولاتو سره به موږ ټول تحول کوه، په دې اساس د استعمار پر ضد مجادله چي نن په ټول جهان کي په ډېر قدرت سره جریان لري موږ هم حتماً په دې مجادله کي برخه لرو. دا ده چي د هر هغه فرد چي د افغانستان د طبیعي حدودو تر منځ ژوند لري د نړۍ، د بشریت د عمومي خیراو اصلاح په سلسله کي د یو بشر دوست او ملت پرست فرد په حیث په دغي مجادله کي برخه لري او زیار کاږي چي د پښتونستان په خاوره کي زر تر زره دغه غیر طبیعي او استعماري حالت ته خاتمه ورکړی شي او پرې نه ږدي چي پښتانه پخپله د خپل زیار او د خپلو متو په واسطه خپل ځان ته جهان جوړ کړي او هر هغه عمل چي له دې جریان سره مخالف وي له انسانیت سره مخالف او له تاریخ سره مغایر عمل بولي او هر څوک چي دغه مجادله خپله فرضیه نه تصور کوي په انسانیت کي یې نوی نظر کول په کار دي.

که د پښتنو په خاوره کي نشنليزم وځېړل شي، هم پوره ښکاري چي د پښتونستان مسئله د هر هغه فرد له پاره چي د امو او اباسين تر منځ ولس پوري ارتباط لري مهمه تاريخي مسئله ده.

د فيوډاليزم له انحطاط سره سم نشنليزم هم قوت وموند. د فرانس د لوی انقلاب ډېر ښه زېری نيشنليزم ډېر لوی قوت او قدرت و، پښتنو هم په شرق کي ځانته مليت، ځانته هويت، ځانته شهرت او ځانته موجوديت تل حفظ کړی دئ، سره له دې چي د اسلام مبارک دين ته د پښتنو په خاوره کي په ډېره درنه سترګه کتل شوي دي او د ډېرو لويو مجاهدو په واسطه له دغي خاوري څخه ځيني نورو ځايو ته نشر شوي هم دی' خو د پښتنو مليت په ټول اسلامي جهان کي د رانه ستوري په څېر پاته شوی دی، اوس د پاکستان واکداران په هغه دليل چي تاريخ يې زمانې شاهد دی؛ د پښتنو په خاوره خېټه اچول غواړي چې د استعماريونو په حمايت د پښتنو هغه وطن چي پښتونستان (Pashtonistan) نومېږي له منځ څه ورک کړي او د دې مقصد له پاره يې د اسلام له مقدس نامه څخه داسي سو استفاده کړې چي غواړي ټول تاريخي واقعيت غلط ثابت کړي؛ خو غافل له دې دي چي د نړۍ د نشنليزم قدرت د ژبې، ګډ تاريخ د مخصوصي خاوري، د سياسي موجوديت، عاداتو او ثقافت د اختلاط او اشتراک محصول وي.

زموږ نشنليزم هم دغه ډول ډېر پاخه اساسات لري. د پښتنو مشترک تاريخ، ګډ اقتصادي منافع، مشترک طبيعي شرايط د دوی د ډېر قوي نشنليزم سرچينه تشکيلوي.

نشنليزم چي د استعمار پر پيکر باندي ډېر قوي ضربه حواله کوي نو د پښتنو له خو اهم دا دی؛ په استمعار باندي ډېر کلک کلک وارونه کېږي او هر فرد د ملي احساساتو په اساس او په دې مفکوره او ټينګ ايمان چي دې مسئلې ته په کم نظر کتل او لږ اغفال کول ملي خيانت، د استعمار له محال دوام سره مرسته کول او له تاريخ سره مخالف عمل دی؛ په ډېر شعوري او مفکرانه ډول د پښتونستان  د ازادۍ له پاره د سر ورکولو او نور هر ډول ايثار له پاره ميدان ته دانګلي دي.

که په چا ښه لګېږي او يا بد، که د چا خوښ وي او يا نه؛ که څوک يې غواړي او يا نه، په هر صورت او په هر حال کي به د پښتنو دې غير طبيعي وېش ته خاتمه ورکوي، پښتونسان به آزاد او د پښتنو په خوښه به آزاد حکومت جوړوي.

د پاکستان واکداران که نن د استعماريونو له خوا په شا ټپول کېږي. که د نورو د ارزو د تامين له پاره خپل هېواد د باد فنا له خطر سره مخامخ کوي؛ که د استعمارچيانو د سياسي هدفو له پاره ډېر استعمالېږي.

که د نورو په لمسون او يا پخپله خوښه د انسانيت له تقاضا، د تاريخ له جريان، د طبيعت له واقعيتونو څخه مغاير حرکت کوي او غواړي چي تاريخ په څټ وګرځوي او تېري تاريخي دورې د خپل استعمار د قوام او دوام په آرزو له سره نوي

کړي نو دا خیال دی او محال د پښتنو د ټولو هغو کسانو چي د افغانستان په طبیعي حدودو پوري ځان مربوط ګڼي؛ دا ایمان او عقیده ده چي د انساني اقتضاآتو او ملحوظاتو، د تاریخي حقایقو او وقایعو، د محیطي او طبیعي شرایطو او عواملو د نشنلیزم او ملي عشق او علاقو په اساس به پښتونستان ازاد وي او پښتانه به پخپله خوښه خپل مقدرات تعینوي.

ح.ا. اباسین

افغان پای تخت کابل 1958

د کابل مجله